# په حقیقت کې، هغه څه چې تاسو يې وايئ او بلنه ورته کوئ ډېر ښه به وي که تاسو موږ ته ووایاست چې آیا د هغه څه لپاره کفاره شته چې مونږ کړي دي

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی: أَنَّ نَاسًا مِنْ أَهْلِ الشِّرْكِ، كَانُوا قَدْ قَتَلُوا وَأَكْثَرُوا، وَزَنَوْا وَأَكْثَرُوا، فَأَتَوْا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا: إِنَّ الَّذِي تَقُولُ وَتَدْعُو إِلَيْهِ لَحَسَنٌ، لَوْ تُخْبِرُنَا أَنَّ لِمَا عَمِلْنَا كَفَّارَةً، فَنَزَلَ {وَالَّذِينَ لا يَدْعُونَ مَعَ اللهِ إِلَهًا آخَرَ وَلا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللهُ إِلا بِالْحَقِّ وَلا يَزْنُونَ}[الفرقان: 68]، وَنَزَلَت: {قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ لا تَقْنَطُوا مِنْ رَحْمَةِ اللهِ} [الزمر: 53]. دا چې ځينو مشرکانو زيات وژل کړي وو، زناګانې يې زياتې کړې وې، نو دوی محمد صلی الله عليه وسلم ته راغلل، او ويې ويل: : په حقیقت کې، هغه څه چې تاسو يې وايئ او بلنه ورته کوئ ډېر ښه به وي که تاسو موږ ته ووایاست چې آیا د هغه څه لپاره کفاره شته چې مونږ کړي دي نو دا آيت نازل شو {وَالَّذِينَ لا يَدْعُونَ مَعَ اللهِ إِلَهًا آخَرَ وَلا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللهُ إِلا بِالْحَقِّ وَلا يَزْنُونَ} [الفرقان: 68] - (يعني او د رحمن ذات بنده ګان هغه دي) چې له الله سره بل معبود نه بلي او هغه نفس چې الله حرام کړی وي؛ ناحقه نه قتلوي او زنا نه کوي) (نو دوی ته به د لوړو مانيو بدله ورکړلی شي) او دا آيت نازل شو: {قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ لا تَقْنَطُوا مِنْ رَحْمَةِ اللهِ} [الزمر: 53]. ته (دوی) ته ووايه: اې زما هغو بنده ګانو چې په خپلو ځانونو يې زياتی کړی دی! تاسو [د الله له رحمت نه مه نا امېده کېږئ، [الزمر: ۵۳
[(صحيح] [متفق عليه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم ته له مشرکانو څخه ځيني خلک راغلل، پداسې حال کې چې زيات قتلونه او زناګانې يې کړې وې، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم ته يې وويل: هغه څه چې ته ورته له اسلامي لارښوونو څخه بلنه ورکوې ښه کار دی، خو د هغه شرک او لويو ګناهونو له امله به زمونږ برخليک څنګه شي چې مونږ پکې لوېدلي يو، نو آيا (زمونږ لپاره) کومه بخښنه شته؟ نو دا دوه آيتونه نازل شول: چې الله تعالى يې په ترڅ کې د هغو خلکو توبه قبوله کړه، سره لدې چې زيات او لوی ګناهونه يې کړې وو، او که داسې نه وای شوي نو په خپل کفر او سرکش کې به وړاندې تللي وو او هېڅکله به پدې دين کې نه وو داخل شوي.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee